تفسير خان تفسير ۲۰۰۸/۱۱/۱٤م

# پښتانه يواځې په پښتو راټولېدی اوپښتويې ژغورلی شي

پښتنو دخپل پښتني شتمن کلتور ( پښتونولی) له برکته ، د تاريخ په اوږدو کې، د پرديو د پرله پسې تېريو او تربښتونو په شکل کې سختې ازمويني په برياليتوب سره تېرې کړي، اوخپل اسلامي هويت يې تر هر چا ښه ساتلی.

په پښتونولۍ کې مانوي ارزښتونه په اسلام، اداره په ولسواکۍ (ديموکراسۍ)، او احساسات او عواطف پر انساندوستۍ ولاړدي. دوی يو له بله سره ټکر نه کوي، چې غوره بېلګې يې پښتني غيرت، جرګې، او پنا ورکول دي.

په دې توګه ويلی شوچې پښتونولي داسلام په چوکاټ کې د ولسواکۍ ( دېموکراسۍ)، او نه زورزياتي يوه اوږد ه لړۍ ده.

خو د پښتنو بدبختي د استعمار په راتګ، او بيا په خاص ډول په ۱۹۲۹ عيسوي کال کې، هغه وخت پيل شوه، چې پښتا نه دپر هېزګا رانو او دينپوهانو په جامه کې، د خپل قام او دين د دښمنانو، پردو اجنټانواو منافقانو ددسيسې ښکار، او د هېواد دازادۍ او ترقۍ سرغندوی، نوښتګر، پرتېولو ګران او منلی اتل يې دهېواد پرېښودلو ته اړ، اودخپلو سترو سړيتوبونو او پوهانو د وينا پرخلاف- چې به يې دوی زده کړې ته هڅول او ويل به يې : په غوجل کې بارې خر او کچر ښه دی نه په ښونه کې جاهل او بې ادب، دوی جهالت اوبې ادبۍ ته مخه ، ملي حاکميت ړنګ، او ورسره يوځای يې د هېواد اقتصادي پراختيا او روښانفکري غورځنګ څو لسيزې په ټپه ودراو.

ور پسې د هېواد ځوان پښت دپرديو دجاسوسانو ښکاراو په ښيو او کينو ويشل شو. په دې توګه داشتباهکانو ، مخامختياوو، کودتاهګانو، جرمونو، خيانتونو،کساتونواو وروروژنې لړۍ پيل شوه، ان تر دې چې کمونستی يرغلګرو زمونږ هېواد دخپلو ګوډاګيانو او جاسوسانو په مرسته لاندې کړ. خو زمونږ خلکودرس وا نه خيست، او دسره يو کېدو، اوپه پوهې اوتکنالوژۍ دخپلو بچيانو د سنبالولو اود هېواد د شتمنيو دژغورلو پرځای يې دښوونځيو د سوزولواو دښوونکو دوژلو، هغه د منافقانودروغجنه فتوه او ناکامه تجربه تکرارکړه.

په ۱۹۹۲ کې يې دا تجربه له سره تکرار کړه؛ او چې کله نورو پر افغانستان د واکمنۍ هڅې او د خپلې پوځي غښتلتيا کوښښونه لا وخته پيل کړي وو زمونږ پښتنو شوبلې او نورې پوځي وسيلې او ابادۍ له منځ څخه وړلې، چې ګواکې د کافرانو په لاس جوړ ې شوې، خو دا يې هېره کړې وه چې له هغو ساده ټوپکونو څخه نېولې چې دوی له شورويانو سره پرې جنګېدلي وو ان تر هغو کاليو چې ددوی پرتن وود هم هغو کافرانوپه لاس جوړشوي وو.

دا لړۍ لا د ۱۹۹۲ کال له تر ټولو ترخې تجربې وروسته هم پای ته و نه رسېده او لا تر اوسه روانه ده، چې دافغان ولس دمادی اومانوي ارزښتونوپه خوړلو يې زمونږ هيواد د ورانۍ اوهېوادوال د ځناورتوب او دهريت پر لور شېوه کړي، چې نمونې يې هره ورځ په سترګووينۍ. او که دا حال ډېر ژر پای ته ونه رسېږي نو په باور سره ويلی شو چې ځناورتوب او دهريت به لکه سړيخوري، چې دپرله پسې ولړې له کبله په تېرو زمانو کې دنړۍ په ځينو سيمو کې په رواج بدله شوې وه، خدای مه کړه، زمونږ په هېواد کې په رواج بدل شي.

ځکه نو پښتنو ته په کار ده چې راوېښ اودخپلو وياړلو او سپېڅلو ديني او افغانی ارزښتونو دژغورلو لپاره په يوې يواځنۍ هستې را غونډشي.

دغسې هسته دښاغلو- صمد حامد، اشرف غنی احمدزي، ودير صافي، حبيب اله رفيع، روستار تره کي، علي احمد جلالی او داسې نورو په شتون کې جوړيدی شي، چې بيا دغونډو، ټيليفوني او انټرنيتي اړيکو له لارې ټول نورهېوادوال - باندي (هغوی چې له دولت او اپوزسيون سره تړلي نه دي) او هم نا باندي ( ددولت کار مندان اوا پوزېسيون) سره را ټولولی او په يوې سترې کتلې بدلولی شي.

دوی به بيا له نورو ولسپالو سړيتوبونو سره د نمونې په توګه د ازبکو په استازيتوب له ښاغلي ستار سيرت ، دهزاره ګانو په استازيتوب له ښاغلي خدايداد بشر دوست ، همدارنګه دتاجکو اونوروقومونو له وتلو ملی سړيتوبونو سره په ګډه دراتلونکو ټول ټاکنو په اړه ، چې زمونږ هېواد يې همدا اوس په درشل کې دی، يو غوره پروګرام جوړ ا وورته


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

خپل ګډ استازی ودروي. په دې توګه به قدرت په سوله ییزه توګه دولس رښتینو استازو ته وسپارل شي؛ ورور وژنه به بنده، هېواد به وژغورل، او ولس به ارام شی. که نه د هېواد ژغورنه په لنډ وخت کې ناممکنه ده، او که ممکنه هم شي نو د ابا په بیه.

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de